پو هندوی دوکتور سیدحسام (مل) .

-------------------------------------

## د توطیې تیوری (the conspiracy theory)

نړی اودنړی رغنده تحولات او بدلونونه دتولنی دیو لړ منل شوی قوانینو او طبعی ضروریتونو په رڼا کی صورت مومی اود تولنی ماهرانو اویاتولنیز پیژندونکو (تولنپوه) دغه قوانین کله ناکله دخلکود اګاهی اود پیژندنی دپاره پخپلو مقالو ، سینمایی فلمونو ، تیاتر او په مجموعی توګه سره دمید یا دلاری تولنی ته وړاندی کوی ، او هر څومره چی خلک دتولنی په تغیر اودهغه دتحول پر عواملو باندی پوه شی په همغه اندازه سره هره ناوړه پیښه کوم چی دهغوی په چاپیریال کی راپیښ شی په آسانی سره هغه تشخیص کولای شی او که چیری دتولنی خلک له دغه جاری اوطبعی قوانینو څخه معلومات ونه لری نو هغه خلک تل د ستونزو سره مخامخ کیږی اودهغو دکار اودفعالیت ثمره نورو چلوته باز اوتوطیه کونکی دلی ټپلی وړی دلته د موضوع د ښه روښا نه کولو دپاره د انګلیس دمشهور لمړی وزیر « چرچل» هغه نه هیریدونکی خبری رایادوو اوهغه داچی : چا له هغه څخه پوښتنه کړی وه چی تا سی څرنګه نورو هیوادونه تر خپل استعماری ولکی لاندی راولی ؟ چرچل دهغه په ځواب کی ویلی وه مونږ دیو هیواد ښکیلول اویا تر خپل استعمار لاندی راوستلو دپاره په دوه اصل باندی اتکا کوو : اول داچی دهغه هیوادخلک باید پوره ناپوه اودتولنی دقوانینو دشناخت څخه بی خبر اومحروم وی ا و دوم داچی مونږ په هغه هیواد کی یوه خا ین دلی ټپلی دپیسو اود بډی په ورکولو سره استخداموو چی زمونږ داهدافو د سرته رسولو دپاره کار وکړی ! خاین دلی ټپلی یعنی څوک ؟ ( هیټلر دخپل خاطراتو په لړکی داسی ویلی وه : [ ماته هغه څوک خا ین دی چی هغه دخپل وطن دبربادی دپاره ما سره مرسته وکړی ]. په هرصورت مخکی له دی چی په اصلی موضوع باندی تم شو لازم بولم چی د توطیی پر تیوری باندی په تاریخی اوعلمی بڼی سره یوڅه رڼاواچوو:

**د توطیی تیوری یعنی څه ؟** دا تیوری په لمړی سرکی د یوی وړی توطیه کونکو ډلو ټپلو د کرکتر اودهغو دوصف دبیانولو په منظور پکاروړل شوی دی اما نن ددغه تیوری مفهوم یادهغه پکاروړل داسی دی چی ننی پیښی اوتاریخی

واقعات دیومخفی دسیسه جوړونکی تولګی نقشه اودهغوله پلان څخه عبارت دی یا په بل عبارت دتوطیی تیوری په دی مفهوم چی دغه ډلی تپلی په ظاهری بنې سره پرسیاسیی ، اجتماعی ،او اقتصادی چارو باندی باور نه لری او هغه داچی په تولنه اویا په نړی کی څه بد مرغی اوناخوالی چی مینځ ته راځی اودټولنی خلکو دهغه سره لاس په ګریوان دی هغه د یوی وړی ډلی تپلی زورمندانو اود قدرت د خاوندانو پټ اورابنکاره خراب کاری او ویجاړونی کړنی دی کوم چی دغه زورمندان ټول امکانات لکه سیاسیی ، اجتماعی ، مالی ،نظامی او .... په لاس کی لری او هغو دخپلو اهدافو دترلاسه کولو دپاره دغه ټول پورتنی امکانات بکار اچوی . **لهذا دتوطیی تیوری په واقیعت کی دتوطیی یوغیر ضروری فرضیه دی کوم چی په هغه کی داضافی توضیحاتو د احتمال څخه سترګی نشو پټولی .یعنی په هغه کی دهرډول توضیح امکان شته دی !** داتیوری په تاریخی لحاظ سره په (اتلسم ) پیړی کی رامینځ ته شو کوم چی په هغه وخت کی یو وړه ګروپ خلکو په نړی کی دخپل اهدافو دپاره په توطیه اود سییسی باندی لاس پوری کړل او دهغه وخت څخه لاتراوسه په پرلاپسی بنی سره دتاریخ په مختلفو پړاونو کی دا رنګ توطیی پلان شوی یا ترسره شوی دی لکه سپوږمی ته دانسان پلی کیدل (چی یوه توطیه وه) یا د سپتمبر یولسم یا د( دیا نا د مرګ توطیه) اوداسی نور یا پرافغانستان باندی دامریکی هجوم داوسما بن لادن درانیول ددسیی په شکل .... نو د همدی لند سریزی په نظر کی نیولو سره غواړم چی د پروفیسور چوسودفسکی( Prof. Chossudovsky) دمقالی ځنی مهم ټکی چی دجنوری په پنځمه کال (۲۰۱۵) کی دګلوبال ریسرچ په ویبپانه کی په نشر رسید لی دی دلته له هغه مهمو ټکو څخه یادونه وکړم :

* اوباما د تودی جګړی په درشل کی په پل (ګام) ایښید وسره غواړی چی غربی تمدن داسلامی هیوادونو پواسطه سره تهدید اووګواښوی .

*دنړیوال تروریزم سره په جګړه کی دانسانی هڅی اواند تر سرلیک لاندی جار او ډول(دهل) وهل .

*دغربی جګړه ماروخبری:مونږ دانسان دهوسا ژوند دتامین اوتیکاودپاره دنده لرو چی بشردوستانه جګړی کوم چی دستونزی دحل یواځنی لاره دی هغه ته

دوام ورکړو یا ځان ورته چمتو کړو (دغربی جنګ غوښتونکی ډلی تېلی دریځ ) .

* هغه شرانداز خلک چی په کمین کی ناست دی اوزمونږ ګټی ته تاوان رسوی هغوی باید دصحنی څخه د باندی اوله خپل مخ څخه لیری کړو(جورج دبلیو بوش دامریکی دمتحده ایالاتو پخوانی جمهور ریس ).

* غربی ټولنیز رسنی داوباما د نظا می جګړه غوښتونکو ځواک د جنګ اودجګړی ډولونه وهی اوداسی انګاری چی په تبلیغاتی بنی سره به وکولای شی چی دنړی دخلکو ذهنونه جنګ جګړی دپا ره چمتوکړی .



دجنګ اودجګړی دتبلیغاتو یوله اصلی اهذافو څخه « دښمن جوړونه » دی لکه هغسی چی داوباما اداره دشک اود تردید په پام کی نیولوسره دسیاسیی مشروعیت په عنوان القاعده اودهغه پوری تړلی شبکه (دسی آی ای په ملا تړ) د(خارجی دښمن) په نوم سره دهغه موجودیت ته بنه ورکوی اوهم دهغه سره دخپل وابستګی څخه انکار کوی اوپه دی شان سره غواړی چی دخلکو اذهان دی ته چمتو کړی چی ګواکی دهغه اداره د دغه دښمن سره کوم اړیکی نه لری .یا په بل عبارت دا داوباما اداره دی چی هم پخپل لاس ځا ن ته دښمن جوړوی ،دهغه موجودیت ته رسمیت بخښی دهغه څخه ملاتړ کوی اوهم په پای کی دهغه سره دخپل اړیکی دلرلو څخه انکا ر کوی نو په دی اساس سره ویلی شو چی داپخپله یوه سیا سیی توطیه دی چی هیڅ څوک د هغه څخه سترګی نشی پټولی [ دالقاعده اودهغی سره تړلی شبکه پخپله دامریکی د«سی آی ای» دطرحی په بنیادر امینځته شوی دی اوهغه داچی نن ټولو ته معلوم شوی چی دامریکی د متحده ایالات د دولت په مرسته سره اوساما بن لادن دروسانو پرضد جنګ جګړی دپاره افغانستان ته لیږل کیږی ، دهغه سره تقریباً

(۹) ملیارد دالر مرسته کوی  اوبیا هغه ته دآزادی د قهرمان نوم ورکوی اوورروسته له هغه چی خپل ځان ته  په فلمی بڼې سره  هغه د ښمن وګرځوی د(۹/۱۱) پیښی رامینځته کوی  اوددی د پاره چی دامریکی د سی آی ای راز افشا نشی سمدلاسه داوساما بن لادن کورنی ته په استثنای بڼې سره اجازه ورکول کیږی چی له امریکی څخه عربستان ته پرواز وکړی ، لکه  هغه متل چی وایی ☹ هرڅوک چی بل ته کوهیی باسی یوه ورخ خپله په همدغه کوهی کی ولویږی ) لکه اوس چی دغه مثله افشاشوی چی د (۹/۱۱) په پیښه کی دامریکی سره د عربستان سعودی د شهزادګا نو لاس هم زید خل دی او له همدی امله دی چی د سپتمبر دیولسم پیښی د قربا نیا نو کورنی د خپلو عزیزانو خون بها له سعودی عربستان څخه غواړی اوداوباما ادره هم دعربستان نوی سلطان سلمان ته داسی اشاره رسوی چی که چیری ته ځمونږ له اوامرو څخه اطاعت ونکړی نوهغه راز چی سعودیان د(سی ای ای ) سره د سپتمبر دیولسم نیتیی په توطیه کی لری هغه به افشا کړی . لذا د دغه تولو پورتنیو یادونو څخه دا راجوته کیږی چی همدغه دپانګوالی اداره اوسیستم دی چی دخپلو ګټو د تا مینو لو د پا ره په راز راز توطیو باندی لاس پوری کوی [

دغربی تولنیز رسنیو هدف له تبلیغ څخه ډیر په غلی اوبی سروصدا بڼی سره دمیدیا پواسطه سره دیو موضوع ورو ورو دخلکو په اذهانو کی تراخرنی یعنی دکرکی تر سرحده پوری ترزیق کول اویا ننویستل دی کوم چی یو د دی ډول تبلیغاتو څخه هم غربی نړی ته خبرتیا ورکول دی اوهغه دا  چی تا سی اوس دمسلمانانود سخت تهدید اوګواښ سره مخامخ یا ستیی نودهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره دغه دجګړی اودشخړی پلویان په اصطلاح سره خپل بشروستانه جګړی په څو جبهو کی پیل کړی دی لکه په روسیه ، چین و اومینځنی ختیځ کی یعنی دغه یادشوی اوپیل کړل شوی په اصطلاح سره بشردوستانه جګړی دهمدغو جګړه مارو له اوسنی ستر اهدافو څخه شمیرل کیږی (که جګړه په غرب کی پیل شی لکه چی اوس دهمدی ډول چګړی پیل په اوکراین کی پیل شوی اودهغه لمن به وروړ اروپا ته به پراخه شی اویاداچی په مینځنی ختیځ کی دجګړی دوام په سوری عراق اوبیا وروسته په لبنان اوایران او همدعسی مینځی آسیا ته ولیږدول شی نو هغه ډچا په خبره داجګړی یواځی دامریکی دمتحده ایالاتو داسلحو د کارتلونواودخرڅونکو په ګټه تماميږی ، اوامریکی نه

غواړی چی جګړه دامریکی دمتحده ایالاتو په دننه کی پیل شی ، نو د همدی پورتنیو دلایلو په نظرکی نیولو سره اروپایی هیوادونه اودهغو په سرکی دهغو هیوادونو مشرانو باید خپل سر پحپل ګریوان دننه کړی او دامریکی دمدیا تردی ډول تاثیراتو لاندی را نشی اودځیل خلکو ځوزره کلن تمد ن د خاوری سره خاوری ونکړی )

**له پردو څخه ویره اونظامی اجندا :** د پردوڅخه په مستقیم بنی سره د ډار غورځنګ (موج بیګانه ستیزی) د مسلما نا نو پرضد کوم چی اوس په ټول اروپا کی خپل لمن غوړولی یا دهغه لمن غوړول شوی دی اوس د سیاسیی جغرافیا (Geopolitic) سره غوټه شوی دی اوداپخپله دغرب داجندا یوه برخه تشکلیوی(لکه په فرانسه کی تازه پیښي) کوم چی اوس د هغه مفهوم د دښمن سره د ښمن په جنګ اچول دی .

په یاد باید وساتل شی چی اسلامی هیوادونه دټول نړی تقریباً (۶۰) په سلو کی دتیلو (نفت) طبعی زیرمی لری ،حال داچی دامریکی متحده ایالات دټولو نړی (۲) په سلو کی دنفت زیرمی اوذخیری لری چی یواځی عراق دامریکی د نفتو دزیرمو پنځه چنده د تیلو طبعی زیرمی لری ( تاسی کولای شی د میخایل چودوفسکی هغه مقالی ته چی د اسلامی نړی سره دتیلوو دلاسته راوړلو د جګړی تر سرلیک لاندی لیکل شوی اودګلوبال په ریسرچ ویب پانه کی د جنوری په څلورم کال «۲۰۰۷» کی خپور شوی دی مراجعه وکړی ).

لکه چی موپورته یاده کړدنړی دتیلو زیاته برخه داسلامی هیوادونو په طبعی زیرمو کی زیرمه شوی اودهمدی زیرمه شوی تیلو له امله دی چی دامریکی متحده ایالات ددی دپاره ***چی پردغه زیرمو باندی لاس رسی پیداکړی او تیل لوټ او سرقت کړی نو هڅه کوی چی په مینځنی ختیځ کی د جنګ جګړی لمن ته پراخوالی ورکړی هیوادونه سره په جنګ واچوی او یا داچی دمینځنی ختیځ هیوادونه د اقتصاد له اړخه بی ثبا ته کړی او د هغه ملکونو رژیمونه سره بدل کړی اودخپل ګوډاګی استاذو دپاره زمینه مساعده کړی چی دهغه هیوادونو په سرمشری کی مقام ترلاسه کړی .*** (دعراق اودکویټ دجنګ اصلی محرک پخپله دامریکی متحده ایالات دی او هغه دا چی دامریکی متحده ایالات دکویت زمامدارانو ته ویلی وه چی تا سی با ید دتیلو یوډو ل مستعرض یا کږی وږی متمایل څاګا نی دعراق په سرحد کی وبا سی یا حفرکړی چی

*دعراق دتیلو ځا ګانو څخه نفت تر لاسه کړی ، کوم چی کویتیا نو همدا راز دتیلو ځاګان وویستل ، اما کله چی صدام حسین خبر تر لاسه کړ چی کویټیانو دعراق نفت په دی ډول سره غلا کوی ، نوسمدلاسه کویټ ته د مهاهرانو یوه هییات ولیږل او کویتیا نو ته خبر ورکړ چی ددی ډول غلا څخه لاس په سر شی ، اما کویټیانو له خپل دغه کړنی څخه انکار وکړ ،نو همغه وه چی صدام حسین پر کویت باند یرغل وکړ........ دا امریکی دمتحده ایالاتو د توطیه ګرانو یوه رغنده توطیه وه کوم چی اوس ټولو ته لکه دلمر په شان روښانه دی )*

## امریکایی تفتیش عقاید(دامریکی پواسطه سره دباورونو پلټنی)

*داجماع دجوړونی جریان یارونددجګړی په لورکټ مټ لکه دهسپانیی دعقایدو دتفتیش یا د پلټنی په څیر اوشکل دی ، یعنی چي ټولنه فرمانبرداری ته ضرورت لری ډلته سیا سی اجماع ته په معاصر بڼی سره دسوال ځای نه پاتی کیږی بلکه دباورونو تفتیش اوغوښتنی په دی مفهوم دی هیوادونه با ید ددی متابعت وکړی یا دی ته تسلیم شی چی جنګ غربی ارزشونو اودموکراسی ته لاره اواره وی . ښه دغبرګ شر اوبد باندی تفوق موندل دی . پس مونږ باید دیوبد سړی څخه وروسته لاړ شو .*

***جنګ سوله دی .***

***اوس غته دروا غ اوغلطی پځپله حقیقت دی یا په بل عبارت حقیقت یا ریښتیا درواغ او کذ ب دی ،حقیقت اوس دتوطیی په تیوری باندی اغوښتی دی دپاول کریک رابرت (Paul Criag Robert) دکال (۲۰۰۱) په نقل قول سره دتوطیی دتیوری داورولی(دحکومت له خوا دخلکو دکړنو څارل ) د تفکر پر بنیاد دمجد د یا د سره د تعریف کولو ضرورت په ګوته کوی، د توطیی تیوری نور داوړدی مودی دپاره دیو پیښیی توضیحات په د سیی سره نشی ورکولی ، بلکه اوس دتوضیحاتو مفهوم یا حتی یو واقیعت دحکومت اود روسپی ګری(جنسی لاره جوړونکی) مید یا د توضیحاتو او داقداماتو څخه دباندی دی*. *یا په بل عبارت ریښتیا اوحقیقت د حکومت او د تبلیغاتو دوزارت دلوړپوړو مقا ما تو د پا ره نارام کونکی موضوع بلل کیږی* خکه چی په دی ډول تکل سره حقیقت د مجد د تعریف له مخی د توطیی دتیوری مفهوم خپله کوی ، یعنی یو بی بنیا د ، تش ، اود خندا وړ توضیحا ت یاځرګندونی چی مونږ باید دهغو په خوښه پردغه تش اوبی بنیادتوضیحا تو باندی سترګی پټی

کړو او هغه ومنو .

***خیالی نکل«افسانه» پرحقیقت باندی اړول*** : تحقیقی روزنا مه نګاری کوم چی اجتماعی ،سیاسیی ، اواقتصادی موضوعات اودهغو حقیقت او ریښتینتوب په یو ځانګړی روش سره له مینځه وړی اوپه دی ډول سره غواړی چی حقیقت ته بل شا ن خیره ورکړی کوم چی دا پخبله دتوطیی دتیوری یو شکل دی اوداځکه چی دا ډول ارزونه پخپله اجماع د خطا اوددروغو پربنیاد سره یو ډول مقا بلی او سوالونو سره مخامخ کوی .

***پس حقیقت څه دي ؟*** *د نړی دامنیت د پا ره ستر تهدید او ګواښ دامریکی د متحده ایالاتو ،نا تو اوداسرایل ایتلاف او وحد ت دی یا په بل عبارت دنړی د بی امنیتی ریښیی ددی دری واړو ځواکونو دایتلاف په مزی پوری تړل شوی دی، حقیقت لا تراوسه پوری د باورونو دتفتیش (تفتیش عقاید ) په محیط پوری اړین آوپه سرچپه بڼی سره پیژندل کیږی یا ښودل کیږی . اوهغه دا چی جګړه ماران د سولی پیام راوړونکی او د جنګ قربا نیان د قهرما نا نو په بڼه سره پیژندل کیږی .*

***دکور په دننه کی تهد ید اوګواښ:*** *تولنیز رسنی ، روشنفکران ،سیا نس پوهان اوسیا ستمداران سره تړل د یو ناڅرګند ، مبهم ، تیا ره او نا معلوم حقیقت په ګرو کی سره تړل شوی اوهغه داچی د متحده ایالاتو په سرمشری سره جنګ اوجګړه بشریت د نا بودی خواته وړی اوهغه داچی کله حقیقت په کذ ب او درواغو سره واوړی ډیر ستونزمن ښکا ری چی هغه بیرته په حقیقت با ندی واړول شی . دبلی خوا څخه دا یو څرګند حقیقت دی اوهغه داچی کله جنګ دبشرخواهانه دهڅی اواند په عنوان دانسان څخه دساتنی په نا مه ، داجتماعی عدالت ،بین المللی حقوقی سیستم اونورو اړینو اومنل شوی قوانینو دا صلی مسیر څخه واوړول شی ، نو په هغه صورت کی سوله ایز غوښتنی ، ضد جنګی فعالیتونه په جرم اوجنایت کاری باند اوړی دجنګ سره مخالفت جرم ګڼل کیږی اوپه عین وخت کی جنګی جنایتکاران د خپل لوړو موقفونو اودفترونو څخه دستور صادروی چی هغه کسان کوم چی دهغوی د اتوریتی څخه سرغړونه کوی هغوی باید ترسخت څارنی لاندی ونیول شو اودهغو هره کړنه باید تعقیب کړل شی .*

** غټ درواغ با ید هغسی چی ویل شوی یاهغه څه چی په کی شته دی یا*

*هغسې چې دهغه په رڼا کې ترسره کیږي همغسې باید اووسي !*
** کورکورانه تحریمونه (ترتونکي) دناړینوو ، ښځینوو اود کوچنیا نو د مړینې سبب کیږي .*
**دکورنیو اودخلکو تخریب یا له مینځه وړل په واقیعت کې د هغوی ژمنې دخپلو خلکو اودنوروانسانانو په وړاندې له مینځ وړي یا تخریبوي .*
**دغه ډول لوبې(دروغ) انسانان دلته اړ باسي چې له خپل قول وقرار اووینا څخه د نورو انسانانو په وړاندې ډېره وکړي اودخپل دهمبستګې دتعهداتو څخه لاس پرسر شي . اوبیا په ځانګړې بڼې سره دنیازمندانو سره دمرستې دترسره کولو څخه اجباراً لاس پرسرشي .*
** دا ډول کړنه او یا داډول اندیښنه یا دروغ ویل پخپله د جنګ اود پولیسې دولت څخه په پراخه بڼې سره ملاتړ اوحمایت کول دي .*
** داډول روش( درواغ) دواړه یعنې هم ملې اوهم بین المللی ناسیونالیزم له مینځه وړي او تخریبوي .*
*** ددرغو اود کذ ب یا د جعل ماتول اویا له مینخه وړل دبین المللی جنایی پروژو ما تول اود مینځه وړل دي یعنې دهغو کسانو ماتول دي کوم چې ګټې اودسود پسې په هڅه اواند کې دي.*
***   دغه ګټې دنظامې اجندا محور جوړوي کوم چې دانسانانو ارزش دخاوری سره خاوري کوي اوانسانان یا خلک دبې خبرې اود ناخوداګاهې اویا دحماقت په لوری رابیول کیږي یا تیل وهل کیږي .*
***اجازه راکړئ چې دغه پورتنې جریان اویا دغه پورتنې یادونې په معکوس بڼې سره بیان کړو :***
* لوړپوړی جنګی جنایتکاران او دلویو شرکتونو خاوندان اودهغو ملاتړو ته باید دمبارزی چلنج ورکړل شي چې نور ددې ډول نا وړو کړو څخه لاس واخلي .
* امریکایان اوبیا په ځانګړی بڼې سره دهغه هیواد لوړپوړی چارواکی ته باید وویل شي چې نور دخلکو بارونه تفتیش دي ونکړي .
* دامریکې متحده ایالات ، ناتو او اسرایل ته باید وویل شي نور دنظامې صلیبې جنګ اوجګړې څخه لاس واخلي اودنړې په هرګوټ کې دجنګ اور بل نکړي .

* امریکی اودهغه هیوادو هغه شرکتونه کوم چی اسحله جوړوی هغو ته باید وویل شی چی خپل دغه دانسان وژونکی فابریکی زر وتړی .
* امریکی باید خپل تولو نظامی کړیو ته امر وکړی چی نور په چنایی جنګونو کی ونډه وانخلی یا داچی نور جناتیی جنګونه ترسره نکړی .
* امریکی باید زر ترزره خپل ټول نظامی قوتونه دنړی دټولونظامی اډو څخه بیرته وطن ته را ستون کړی .

***محترم لوستونکی*** : د دی پورتنیو یا دونو څخه مطلب دا وه چی یو خو مو دتوطیی پر تیوری باندی یو څه رڼا واچول اود بلی خوا څخه په دی باندی وپوهید لو چی زمونږ په نړی کی څوک اویا کوم ځواک دی چی سوله په خطر کی اچوی ؟

------------------------------ ***په ډیر درناوی سره***